مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۵/۲۱

# په‌خپلو والدینو ورتـاوان بچـې پـه څو دی؟

غـزل

د لـوږې نـه پـه ژوند پورې حیران بچې پـه څو دی؟
وحـشته! راتـه وایـه د انسـان بچـې پـه څـو دی؟


دا پـلار يي چي په وږي نس پـه دار راځـړېدلی
دا چاودې لوڅې پښې ځيرې ګرېوان بچې په څو دی

دوزخـه! او جـنـتـه! جـمـهـوریـتـه! امـارتـه!
په‌خپلو والدینو ور تـاوان بچـې پـه څو دی؟

د کفر پـه نړۍ کـې د انسان خـرخـول ګران دي
اسـلامـه! وه اسلامـه! د افغان بچې پـه څو دی؟

هـنـر بـې ايـمـاني ده او جـګـړه قـهـرمانـي ده
کارتوسه! ته په څو یي د ایمان بچی په څو دی؟

مور هسې هم لوی کړي يو نوموړکي شهادت ته
باوره! ټول جهان کې دا ارزان بچی په څو دی؟






افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ